د افغانستان اسلامي امارت

د پوهنې وزارت

د پکتیا ولایت د پوهنې ریاست

د کیفیت د تضمین آمریت




# د پکتیا ولایت پوهنې ریاست د عملیاتي پلان د کړنو

# د پرمختګ کلنی تشریحي راپور

دراپوروړکولو دوره: حمل – حوت کال ۱۴۰۳

## د مطالبو نوملړ


د ۱۴۰۳ مالي کال  کلنی راپور د چمتو کوونکو نوملړ ........ 3

ولایت په هکله عمومي معلومات/ ولایتي پروفایل ........ 4

د کړنو لنډیز ........ 6

د پوهنې د درې ګونو عرصو پر بنسټ د عملیاتي پلان د کړنو پرمختګ ........ 9

لومړۍ برخه: کیفیت او تړاو ........ 9

۱. پروګرام: ښوونه او روزنه ........ 9

۲. اسلامي زده کړې........ 10

۳. د کیفیت تضمین ........ 11

۴. سرچینې او اداره........ 12

۵. د پوهنې ریاست اړوند فعالیتونه (نشرات، تفتیش، مخابره، پلان او نور) ........ 13

دویمه برخه: انډولیز لاسرسی ........ 14

۱. ښوونه او روزنه........ 14

۲. اسلامي زده کړې........ 16

3 سرچینې او اداره ........ 17

۵. د پوهنې ریاست اړوند فعالیتونه (نشرات، تفتیش، مخابره، پلان او نور) ........ 19

۱. ښوونه او روزنه........ 19

۲. اسلامي زده کړې........ 21

3. سرچینې او اداره........ 21

۵. د پوهنې ریاست اړوند فعالیتونه (نشرات، تفتیش، مخابره، پلان او نور) ........ 23

د غیر پلاني فعالیتونو او لاسته راوړنو برخه ........ 25

تحلیل او پایلې........ 26

د پام وړ ستونزې او وړاندیز شوې حل لارې ........ 58

مالي راپور/تحلیل........ 59

ملپاتې ........ 60

## د ۱۴۰۳ مالي کال د کلني راپور د چمتو کوونکو نوملړ

| نوم او کورني نوم | دنده | برښنا لیک | گرځنده شمیره/ وتساپ | لاسلیک |
| --- | --- | --- | --- | --- |
| مولوی سیف الرحمن (سعد) | دښووني اوروزني آمر | | 0772722268 | |
| مولوی ثمر (طارق) | مالی اواداری آمر | | 0707216854 | |
| مولوی محیب الله (فائز) | داسلامی تعلیماتو آمر | | 0771021291 | |
| مولوِی درازخان (افضلی) | دتضمین کیفیت مسؤل | | 0779238201 | |
| حبیب الله (حبیب) | دڅارني اوارزوني عمومي | | 0771155228 | |
| محمد حسن (مسعودی) | دګزارشاتودتحلیل اوتوحید غړی | | 0767670764 | |

دپوهني ریس تائیدی.

| نوم او تخلص | دنده | برښنالیک | گرځنده شمیره / واتساپ | لاسلیک |
| --- | --- | --- | --- | --- |
| مولوی عبدالقیوم (فاروقی) | دپکتیا پوهني ریس | | 0777687175 | |

## ولایت په هکله عمومي معلومات/ ولایتي پروفایل

پکتیا ولایت د مرکز په جنوب ختیځ ۱۲۲ کلیو متری فاصله کې موقعیت لري چې شمال ته یې د لوګر ولایت جنوب ته یې د خوست ولایت ختیځ ته یې د پاکستان اسلامي جمهوري دولت او لویدیځ ته یې د غزني ولایت موقعیت لري. نوموړی ولایت ۱۵ ولسوالی لري او مرکز یې د ګردیز ښار دی. دا یو غرنی سوړ اقلیم لرونکی ولایت دی چې زیاتره برخې یې په غرونو سره پوښل شوي دي. پکتیا یو تاریخي ولایت دی چې د تاریخي اثارو څخه یو یې د ګردیز بالاحصار دی چې ډیره مخینه لري. له اقتصادي پلوه پکتیا یو ترانزیتي ولایت هم دی چې د خوست ولایت او د پاکستان هیواد سره د ترانزیتي سرکونو په واسطه سره نښلول شوی دی، کرنیز محصولات یې غنم، جوار، اوربشې او داسې نور دي. همدارنګه میوه لرونکو ونو لکه منه، انګور، ناک، بادام او داسی نورو په یاد ولایت کې ښه نتېجه ورکړې ده. عمده صادرات یې عبارت دي له جلغوزي. چارمغز، منه ،انګور، پوستکي او داسی نور .

### تعلیمي وضعیت

د ښوونې او روزنې برنامه: د پکتیا ولایت د ښوونې او روزنې په برنامه کې ۳۷۱ بابه ښوونځي موجود دي چې د هغې له جملې څخه ۱۲۰ بابه لېسې چې ۱۵ بابه یې د ښځینه و او ۱۰۵ بابه د نارینه و دي، ۷۶ بابه منځني ښوونځي چې ۱۱ بابه یې د ښځینه و او ۶۵ بابه د نارینه و دي او ۱۷۵ بابه لومړني ښوونځي چې ٦٦ بابه یې د ښځینه و او ۱۰۹ بابه د نارینه و دي. په یاده برنامه کې ټولټال ۲۱۲۳۰۰ تنه زده کوونکي چې د هغې له جملې څخه ۵۷۱۹۰ تنه ښځینه دي په زده کړو بوخت دي. همدارنګه د ۳۷۱ بابه ښوونځیو له جملې څخه ۱٦۲ بابه تعمیر لرونکي، ۲٦ بابه نیمه کاره او ۱۸۳ بابه بغیر د تعمیره دي. په ۱۴۰۳ کال کې ۱۰۷۹۸ تنه نارینه او ۴۳۲۰ تنه ښځینه زده کوونکي چې ټولټال ۱۵۱۱۸ تنه زده کوونکي کیږي نوي جذب شوي دي.

د یادونې وړ ده چې ۴۷ بابه د نارینه و او ۱۳۴ بابه د ښځینه و د سیمه ایزو زده کړو ټولګي هم شتون لري چې په یادو ټولګیو کې ۱۱۱۹ تنه نارینه او ۱۴٦۵۲ تنه ښځینه زده کوونکي د ۴۴۴ تنه نارینه او ۳۹۵ تنه ښځینه ښوونکو له لورې تر زده کړې لاندې قرار لري. همدارنګه د سواد زده کړې په برخه کې ۴۲ بابه د نارینه و او ۵۷ بابه د ښځینه و ټولګي موجو دي چې په کې د ۴۲ تنه نارینه او ۵۷ تنه ښځینه ښوونکو پر مټ ۱۲٦۰ تنه نارینه او ۱۹۲۰ تنه ښځینه زده کوونکو ته د زده کړې زمینه برابره شوې ده.

### د اسلامي زده کړو برنامه

د اسلامي زده کړو برنامه کې ټولټال ۴۲۰ بابه ښوونیز مرکزونه شتون لري چې له هغې جملې څخه ۱ باب دارالعلوم دی، چې ٦۸۵ تنه طالب العلمان لري چې له جملی ٦۷۵ تنه نارینه او ۱۰ تنه ښځینه دي، ۱ باب دارالحفاظ دی چې ۸۴۷ تنه طالب العلمان لري چې ٦۱۲ تنه یې نارینه او ۲۳۵ تنه یې ښځینه دي او ۴۱۸ بابه مدرسې دي چې پکې ټولټال ۷۹۵۱٦ تنه طالب العلمان چې ۴۸۰۲۵ تنه یې نارینه او ۳۱۴۹۱ تنه یې ښځینه دي په دیني زده کړو بوخت دي.

### خصوصي زده کړو برخه

په پکتیا په ولایت کې ۳٦ فعال خصوصي ښوونځي شتون لري چې له جملې څخه یې ۲۹ بابه لېسې ۵ بابه منځني ښوونځي او ۲ بابه لومړني ښوونځي دي. چې د ۴۹۸ تنه نارینه او ۵۲ تنه ښځینه ښوونکو په درلودلو سره په کې ۲۰۷۵٦ تنه نارینه او ۲۴۹۰ تنه ښځینه زده کوونکي په زده کړو بوخت دي. همدارنګه ۵۰ بابه خصوصي کورسونه هم د پوهنې ریاست تر چتر لاندې خپل فعالیت پرمخ وړي.

## سریزه

**بسم الله الرحمن الرحیم**

**الحمدلله رب العلمین و الصلاة و السلام علی سید المرسلین و علی آله و اصحابه اجمعین. امابعد:**

د پکتیا ولایت د ۱۴۰۳ مالي کال کلنی عملیاتي پلان د پوهنې وزارت د عملیاتي پلان موخو ته د رسیدو په پار په دریو برخو (کیفیت او تړاو، انډولیز لاسرسی او روڼ او ځواب ویونکی مدیریت) کې جوړ شوی دی او د دې ولایت د مرکز، ولسوالیو، کلیو او بانډو په سطحه کې د پلي کېدو په حال کې دی، چې د پرمختګ د څرنګوالي په اړه یې د راپور ورکولو مهال ویش سره سم په کمي او کېفي بڼه منظم میاشتني، درې میاشتني او کلني راپورونه چمتو او اړونده ادارو ته استول کېږي.

د عملیاتي پلان د پرمختګ تشریحي راپور جوړولو یوازینی موخه د پلانونو د تطبیق او فعالیتونو د پرمختګ له څرانګوالي څخه په بیلا بیلو وختونو کې ډاډ تر لاسه کول دي تر څو د اداري بیلا بیلو برخو د لاسته راوړنو، ستونزو، ننګونو، ضعف او قوت نقطو څخه معلومات تر لاسه او د دغه نقطو په رڼا کې خپل راتلونکي پلانونو او اړوند چارو ته بنه والي ور وبخښي.

د پکتیا ولایت پوهنې ریاست د فعالیتونو او لاسته راوړنو د راپورونو د لیږد په دوام دا دی د ۱۴۰۳ کال د عملیاتي پلان د کړنو د پرمختګ  کلنی تشریحي راپور د درې عرصو په رڼا کې چې پورته ذکر شوي دي چمتو او د حمل میاشتې څخه د حوت میاشتې تر پایه پورې د اعتبار وړ او د لاندې برخو در لودونکی دی.

۱ ـ د کړنو لنډیز برخه

۲ـ د دریو عرصو په اساس د فعالیتونو د تشریح برخه

۳ـ د غیر پلاني فعالیتونو برخه

۴ـ تحیل او نتیجه ګیری برخه

۵ـ د عمده ستونزو او وړاندیز شویو حل لارو برخه

٦ـ مالي راپور برخه

۷ـ د معلوماتي او احصایوي ملپاتو برخه

# لومړۍ برخه

## د کړنو لنډیز

### کیفیت او تړاو

#### ښوونه او روزنه

- د پکتیا ولایت د مرکز او ۱۴ ولسوالیو د ۳۷۱ بابه سواد زده کړو کورسونو څخه څارنه تر سره شوې ده.
- ۴ تنه علمي غړو(مربیانو) ته د مرکزي ټیم له لورې او ۳۶ تنه علمي غړو ته د ولایتي ټیم له لورې روزنیز پروګرامونه په لاره اچول شوي دي.
- ۴۲۸ تنه ښوونکي او ۵ تنه علمي غړي د علمي افکارو، مسؤلیت منلو او ښه چلند په برخه کې د چمتو شویو روزنیزو پروګرامونو څخه برخمن شوي دي.
- ۱۰۷ تنه علمي غړي د ساینس، ریاضي او کمپیوټر په برخو کې د چمتو شویو زده کړه ایزو پروګرامونو څخه برخمن شوي دي.

#### اسلامي زده کړې

- د پکتیا عالي دارالعلوم څخه لیدنه تر سره شوې ده.
- د پکتیا ولایت د مرکز او ۱۴ ولسوالیو د ۳۴۰ بابه مدرسو څخه کتنه تر سره شوې ده.
- د اسلامي زده کړو آمریت په شته ډیټابیس کې ۵۶۳ تنه علماء ثبت شوي دي.
- د اسلامي زده کړو آمریت د کارمندانو له لورې ۳۶۰ تنه استادانو ته د نویو درسي کتابونو د ورپیژندلو په موخه ورکشاپ دایر شوی دی.
- ۳۱۱ تنه د مدرسو فارغان په عالیه او عالمیه ازموینو کې ثبت شوي دي.

#### کیفیت تضمین

- د ۱۴۰۲ کال احصایوي معلوماتو پروفایل ترتیب او د نشراتو ریاست سره شریک شوی دی.
- د پکتیا ولایت په کچه ۴۹۹۳ شهادتنامې چاپ اوپه ګروپي بڼه ویشل شوي دي.
- د دولتي ښوونځیو د فارغانو د پایلو ۳۱۰ جدولونه او د خصوصي ښوونځیو د فارغانو دپایلو ۲۴ جدولونه تایید شوي دي.
- د کیفیت تضمین آمریت د راپورونو د توحید او تحلیل غړو له لورې ۴ ربعوار راپورونه د ترتیب او توحید وروسته اړونده مراجعو ته استول شوي دي. او همدارنګه دتضمین کیفیت آمر او ورسره دنتایجو او شهادتنامو مدیریت مسلکي غړو ټولو ولسوالیوته د زده کوونکو دلایحې او طرزالعملونو دتشریح په موخه سفرونه ترسره کړي دي.

#### سرچینې او اداره

- د ۱۰۰ بابه ښوونځیو ودانیو او د ۱۱ بابه روزنیزو مرکزونو احاطوي دیوالونو ثبت او سجل تر سره شوی دی.
- دمتورخ دانجونو ښوونځي لپاره د ملکیت سند جوړشوی دی.

#### ریاست اړوند فعالیتونه

- ۳۹۶ د پوهنې اونیزې چې د وزارت له لورې رالیږل شوې وې اړونده شعبو ته ویشل شوي دي.
- دپکتیا ولایت د مرکز او ۱۴ ولسوالیو د ۳۷۱ بابه ښوونځیو د درسي کتابونو د ویشلو له پروسې څخه کتنه تر سره شوې ده.
- د سواد زده کړې ۲۰۰۰ ټوکه کتابونه د مرکز او ۱۴ ولسوالیو اړوند د سواد زده کړو کورسونو ته ویشل شوي دي.

## انډولیز لاسرسی

### ښوونه او روزنه

- ۳۶۷ د فارغانو د شهرت او پایلو جدولونه د تدقیق او تایید څخه وروسته د نتایجو او شهادتنامو ریاست سره شریک شوي دي.
- د پکتیا ولایت د عمومي زده کړو په ښوونځیو کې ۱۰۷۹۸ تنه نارینه او ۴۳۲۰ تنه ښځینه زده کوونکي نوي جذب شوي دي چې په دې جذب سره د دولتي ښوونځیو زده کوونکو عمومي شمیر ۲۱۸۲۷۳ تنو ته چې ۵۸۲۷۰ تنه یې ښځینه دي رسیږي.
- ۲۴۲ تنه بهر څخه راستانه شوي او ۱۳۶۳ تنه مجاهدین د ټولګي د تثبیت وروسته اړونده ټولګیو ته معرفي شوي دي.
- د پکتیا ولایت په مرکز او ۱۴ ولسوالیو کې ۱۰۵ بابه د چټکو زده کړو ټولګي او ۳۳۷ بابه د سیمه ایزو زده کړو ټولګي ایجاد شوي دي.
- د پکتیا ولایت په مرکز او ۱۴ ولسوالیو کې ۵۷۸۲ تنه د سواد زده کړو په کورسونو کې نوي جذب شوي دي.
- د پکتیا ولایت په مرکز او ۱۴ ولسوالیو کې ۳۴۴ بابه د سواد زده کړو کورسونه جوړ شوي دي.

### اسلامي زده کړې

- د پکتیا ولایت په مرکز او ۱۴ ولسوالیو کې د اسلامي زده کړو ۸۰۰ رسمي بنسټونه تاسیس شوي دي.
- د خصوصي زده کړو ۵۰ بابه مرکزونو څخه څارنه او کنترول تر سره شوی دی.
- ۴۰۰ تنه علما او ۵۰۰ تنه حافظان دولسم ټولګي ته او ۵۵ تنه علما څوارلسم ټولګي ته تثبیت شوي دي.
- د اختصاصي ازموینې له لارې ۵۰ تنه طالب العلمان دیارلسم او څوارلسم ټولګیو ته او ۴۳۰ تنه د دارالعلوم په لومړنۍ دورې
- کې شامل شوي دي.
- د پکتیا ولایت په مرکز او ۱۴ ولسوالیو کې ۵۰ بابه د نارینه و مدرسې، ۲۵ بابه د نارینه و دار الحفاظونه او ۲ بابه د ښځینه و دارالحفاظونه ایجاد شوي دي.

### سرچینې او اداره

- د پکتیا ولایت په مرکز او ولسوالیو کې ۱۸ ساختماني پروژې تر سره شوي دي.
- د بنسټیزو اوترمیماتي پروژو د قیمت ورکولو په موخه د ساختماني موادو نرخونه راټول شوي دي.
- د پوهنې اړوند غصب شویو جایدونو ۸ دوسیې تعقیب شوي دي.

### ریاست اړوند فعالیتونه

- د مخابرې مدیریت له لورې مراجعینو ته معلومات ورکول شوي او د مرکز څخه راغلي مکتوبونه په خپل وخت اړونده کسانو ته ورکول شوي او همدارنګه د مراجعینو اسناد مرکز ته لیږل شوي دي.

## آغېزمن، روڼ او ځواب ویونکی مدیریت

### ښوونه او روزنه

- په لرې پرتو او محرومو سیمو کې د ښوونکو د ګمارنې له څرنګوالي څخه څارنه تر سره شوې ده.
- د پکتیا ولایت په کچه د ښوونځیو د ۱۷ شوراګانو څخه څارنه تر سره شوې ده.
- د پکتیا ولایت د مرکز او ۱۴ ولسوالیو د ۷۱۶ بابه ښوونځیو، ۷۴ بابه سیمه ایزو زده کړو ټولګیو او ۵۴۰ بابه د چټکو زده کړو ټولګیو څخه حمایوي څارنه تر سره شوې ده.

- د پکتیا ولایت په مرکز او ۱۴ ولسوالیو کې د ۸۲۰ تنه ښوونکو، ۶۷ تنه سر ښوونکو، ٦٦ تنه مدیرانو او ۵۹ تنه د سواد زده کړو ښوونکو څخه لېدنه تر سره شوې ده. چې د یادې لېدنې په ترڅ کې یې روزنیزې اړتیاوې په ډاګه شوې دي.
- ۲۰ تنه نارینه او ۱۹۸۳ تنه ښځینه د سیمه ایزو زده کړو ټولګیو زده کوونکي او ۲۷ تنه نارینه او ۱۹۷٦ تنه ښځینه د چټکو زده کړو ټولګیو زده کوونکي اړوند دولتي ښوونځیو ته لیږدول شوي دي.

## اسلامي زده کړې

- د ۳۵۰ تنو د دولسم ټولګیو د بریالي شویو علماوو او ۴۰۰ تنو د څوارلسم ټولګي ته د بریالي شویو علماوو سندونه ارزول شوي دي.
- د پکتیا ولایت په کچه ۱۸ تنه د دارالعلومونو استادان د علمي کادر له امتیاز څخه برخمن شوي دي.
- د ۱۲۰۰ تنو څخه مشترکې ازموینې اخیستل شوي او همدارنګه ۴۹۱۸ تنو ته د دولسم ټولګي شهادت نامې ویشل شوي دي.

## سرچینې او اداره

- د تبدیلی او بست لوړوالي چارو پر مخ بیولو په موخه ۱۵٦ خالي بستونو معلومات استخدام ریاست ته ورکړل شوي دي.
- ۱۵۰ تنه کارمندانو ته د هویت کارتونه چاپ او ویشل شوي دي.
- د پکتیا ولایت په مرکز او ۱۴ ولسوالیو کې ۴۴ تنه کارکوونکي او ۱۷۱ تنه ښوونکي نوي ګمارل شوي دي.
- تر ارزونې وروسته د ۷۳ تنو ښوونکو د قدم لوړتیا تر سره شوې ده.

## ریاست اړوند فعالیتونه

- ۲۴ راپورونه راټول او اړونده مراجعو ته استول شوي دي. همدارنګه د ۱۵ تنو خدمتي کارکوونکو اسناد طی مراحل شوي دي.
- د پکتیا ولایت په کچه ۱ ولایتي او ۱۴ د ولسوالیو عملیاتي پلانونه تحلیل، انسجام او توحید شوي دي.
- د پکتیا ولایت پلان مدیریت له لوري د انکشاپي پروژو ۲۵ کانسپټ نوټونه ترتیب شوي دي.
- ۸۱۹ تنه کارکوونکو ته د مختصر نصاب تدریس شوی دی. او په یاده برخه کې ترې ازموینه هم اخیستل شوې ده.
- د پکتیا ولایت مخابرې مدیریت له لورې ۱٦۳۵ مکتوبونه او ۷۷۰ پیشنهاونه مرکز ته استول شوي دي. همدارنګه ۲۱۹۵مکتوبونه ، ۹۹ فرمانونه او۳۲ حکمونه او مصوبې له مرکز څخه پکتیا ولایت ته رالیږل شوي دي.

## د پام وړ ستونزې او حل لارې

- د مسلکي ښوونکو کمښت
- د معاشاتو او اضافه کارى لږ والي
- د ظرفیت ټیټ والی
- د نیټ او برق کمښت
- د کاري سفر لپاره د سفریې نشتون

## دویمه برخه

## د پوهنې د درې ګونو عرصو پر بنسټ د عملیاتي پلان د کړنو پرمختګ

## لومړی برخه: کیفیت او تړاو

### ۱. پروګرام: ښوونه او روزنه

**۱,۱ فعالیت: د پکتیا ولایت د ښوونځیو د ۱۰ کتابتونونو د کتابدارانو د اړتیاوو ارزونه او ظرفیت لوړول**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې دپکتیا ولایت په کچه د ۱۰ بابه کتابتونونه ارزونه تر سره شوې ده.

**۱,۲ فعالیت: د عمومي زده کړو، اسلامي زده کړو او سواد زده کړې د اړتیاوو د ارزونې موندنو پر بنسټ د ښوونیزو موادو پراختیا(۳۵)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې د مرکز او ۱۴ ولسوالیو د ۳۷۱ بابه سواد زده کړو کورسونو څخه څارنه تر سره شوې ده چې د یادې څارنې په ترڅ کې د نوموړو کورسونو نیمګړتیاوې په ګوته او لازمي سپارښتنې ورته شوي دي.

**۱,۳ فعالیت: د پکتیا ولایت په کچه د علمي غړو (مربیانو) ظرفیت لوړل(۱۳۳)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې ۴ تنه علمي غړي (مربیان) د مرکزي ټیم له لوري او ۳۶ تنه علمي غړي د ولایتي ټیم له لورې د روزنې په برخه کې د دایرو شویو زده کړه ایزو پروګرامونو څخه برخمن شوي دي.

**۱,۴ فعالیت: د علمي افکارو، مسؤلیت منلو او ښه چلند په برخه کې په پکتیا ولایت کې د ښوونکو، مدیرانو او د ښوونځیو د اداري شوراګانو او علمي غړو لپاره د ظرفیت لوړولو د پروګرامونو ترتیبول( ۷۹۳)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې ۴۲۸ تنه ښوونکي او۵ تنه علمي غړي د علمي افکارو، مسؤلیت منلو او ښه چلند په برخه کې د چمتو شویو زده کړه ایزو پروګرامونو څخه برخمن شوي دي.

**۱,۵ فعالیت: کارکوونکو ته د جواز ورکولو د سیستم د پلې کیدو په موخه لازم چمتوالی(۱۳۳)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې دپلان مدیریت ۳ تنه کارکوونکي د جواز ورکولو سیستم د معرفي کولو په برخه کې روزل شوي دي.

**۱,۶ فعالیت: د لابراتوارنو د اړتیاوو معلوموللپاره سروې او په پکتیا ولایت کې د ترسره شوو پروګرامونو حمایوي څارنه(۱)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې د پکتیا ولایت په کچه ۱ ځل د لابراتوارونو د اړتیاوو معلومولو په موخه سروې تر سره شوې ده. چې د یادې سروې په ترڅ کې د نوموړو لابراتوارونو اړتیاوې معلومې شوي دي.

**۱,۷ فعالیت: د لابراتوارونو او کمپیوټرونو اغیزمنتوب او کارولو څخه څارنه او لیدنه(۱)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې ۲ ځل د پکتیا ولایت پوهنې ریاست اړوند لابراتوارونو او کمپیوټرونو د آغیزمنتوب او کارولو څخه څارنه او لیدنه ترسره شوې ده.

**۱,۸ فعالیت: د ساینس ولایتي مدیریتونو علمي غړو او لابرانت لپاره د ساینس، ریاضي او کمپیوټر برخه کې د روزنیزو پروګرامونو تنظیمول( د روزل شوو علمي غړو شمیر ۹ او د روزل شوو لابرانټ ښوونکو شمیر ۱۰۰**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې دعلمي غړو په مورد کوم څوک ندي راغلي مګر ۱۰۷ تنه لابرانټ ښوونکي د ساینس، ریاضي او کمپیوټر برخو کې د دایرو شویو زده کړه ایزو پروګرامونو څخه برخمن شوي دي.

**۱,۹ فعالیت: د مسلکي غړو له خوا په پکتیا ولایت کې د ریاست د تخنیکي غړو لخوا د واش (WASH) Dewormin په برخه کې د څارونډی د تروپ ګروپونو او بدني روزنې ښوونکو لپاره د سیمینارونو او ورکشاپونو دایرول ( ۱)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې ۴ تنه د اصول صنفي ښوونکو ته د واش (WASH) Dewormin په برخه کې او ۲۹ تنه ته دبدني روزنې په برخه کې سیمینارونه دایر شوي دي.

**۱،۱۰ فعالیت: د ځاني ارزونې له مخې د قابلیتونو د ارزونې په برخه کې د ولایتونو او کابل ښار په ګډون د لازم ظرفیت رامنځته کول او د سواد زده کړې د پروګرامونو د کیفیت د ښه والي لپاره د لازمو لارښوونو ترتیبول او ملي کول(۱)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې په دې اړه د مرکز څخه کومه لارښوونه نه ده رالیږل شوې.

**۱،۱۱ فعالیت: د مرکز په کچه د سواد زده کړو د پروګرامونو د ښه تطبیق په موخه، د ترتیب شویو لایحو، طرزالعملونو او لارښودونو د معرفي په هکله د روزنیز ورکشاپ په لاره اچول (۲)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې د اړونده مرجع له لوري کوم روزنیز ورکشاپ په لاره نه دی اچول شوی.

**۱،۱۲. فعالیت: د سواد زده کړې پروګرام د پلي کولو لپاره د سرچینو تشخیص او ترلاسه کول، د دولتي، غیر دولتي بنسټونو او رضاکارانو ملاتړ ترلاسه کول( د ترلاسه شویو بشري سرچینو شمیر ۱۵ او د ترلاسه شوي بودجې اندازه ۱۴۰۰۰)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې ۲ تن رضا کار او ۳۰۰۰ زره افغانی دیو شخص له خوا مرسته شوي او سواد او زده کړې ته قرطاسیه اخستل شوي دي.

**۱،۱۳ فعالیت: د سیمه ییزو خلکو (رضا کارانو) له لارې د پکتیا ولایت په کچه د ولایتونو د پوهنې په ریاستونو کې د کلیو د سواد زده کړې کمېټو د غونډو جوړول(۷۰)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې د پکتیا ولایت په مرکز او ۱۴ ولسوالیو کې د سوا د کمیتو ۱۲۲ غونډې تر سره شوي دي.

## ۲. اسلامي زده کړې

**۲،۱ فعالیت: دارالعلوم ته د مدرسو لوړول(۱)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې د معیار د نه پوره کولو له امله کومې مدرسې دارالعلوم ته ارتقا نه ده کړې.

**۲،۲ فعالیت: د دارالعلومونو د اداري او تدریسي چارو د بیا کتنې او ارتیاؤ معلوملو په موخه د علمي او تدریسي غړو لېږل( ۵۷)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې د پکتیا عالي دارالعلوم څخه د هغې د اداري اوتدریسي اړتیاؤ معلوملو په موخه کتنه ترسره شوې ده.

**۲،۳ فعالیت: په پکتیا ولایت کې د نویو مقرر شویو کارکوونکو د ظرفیت لوړولو په موخه د لارښوونې سیمینارونو دایرول(۱)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې د نویو مقرر شویو کارکونکو لپاره د بودیجی د کمښت له امله کوم سیمنار ندی دایر شوی.

**۲،۴ فعالیت: د پکتیا ولایت کې د اسلامي زده کړو اړوند مدرسو او دارالحفاظونو د اداري او تدریسي کارونو د بیاکتنې او اړتیاؤ معلوملو په موخه د علمي او تدریسي غړو ورلیږل( ۵۷)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې د ۳۴۰ بابه مدرسو څخه کتنه ترسره شوې ده، چې د یادې کتنې په ترڅ کې د نومړو مدرسو اړتیاوې معلومې او د حل په موخه د اړونده مسؤلینو سره شریکې شوي دي.

**۲،۵ فعالیت: په شته ډیټابیس کې د علماء کرامو د ازموینو ثبتول(۵۱۴)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې د پکتیا ولایت په کچه ۱۲۷۸ تنه علماء کرام په شته ډیتا بیس کې ثبت شوي دي.

**۲،۶ فعالیت: په پکتیا ولایت کې د مدرسو او دارالحفاظونو استادانو ته د نویو درسي کتابونو د ورپیژندلو په موخه د ورکشاپ دایرول(۲۲)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې  د اسلامي زده کړو آمریت د کارمندانو له لورې ۳٦۰ تنو استادانو لپاره د نویو درسي کتابونو د ورپیژندلو په موخه ورکشاپ دایر شوی دی.

**۲,۷ فعالیت: د مدرسو فارغین په عالیه او عالمیه ازموینو کې ثبتول(۵۷)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې  ٦۵۱ تنه د مدرسو فارغان په عالیه او عالمیه ازموینو کې ثبت شوي دي.

## ۳. د کیفیت تضمین

**۳,۱ فعالیت: د ولایتونو او ولسوالیو په کچه د کیفیت لرونکو احصاییوي ارقامو راټولولو په موخه د ظرفیت لوړونې ورکشاپونو په لاره اچول(۲۰)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې د کیفیت لرونکو احصایوي ارقامو د راټولولوپه برخه کې درې د ظرفیت لوړونې سیمینارونه دایر شوي دي. چې د نوموړو سیمینارونو په دایریدلو سره په یاده برخه کې د کارکوونکو ظرفیت لوړ شوی دی.

**۳,۲ فعالیت: د هېواد په کچه د ۱۴۰۲ هـ ش کال احصاییوِي ارقامو 10% کتنه او تصدیق ( د ارقامو د تصدیق شویو راپورونو شمیر ۱)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې  یاد فعالیت د اړوند مسؤلینو له لورې په پکتیا ولایت کې نه دی تر سره شوی.

**۳,۳ فعالیت: د ډیټاسیټونو، ولایتي پروفایلونو، د احصایې او معلوماتو تحلیلي کتابونو او پوهنې اطلس په بڼه د ۱۴۰۲ هـ ش کال د احصایي ترتیبول او د نشراتو ریاست ته استول(نشراتو ریاست ته د استول شویو پروفایلونو شمیر ۱)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې  د ټولو نهادونو د ۱۴۰۲ کال احصایوي معلوماتو پروفایل ترتیب او د نشراتو ریاست سره شریک شوی دی.

**۳,۴ فعالیت: د ډیټاسیټونو، ولایتي پروفایلونو، د احصایې او معلوماتو تحلیلي کتابونو او پوهنې اطلس په بڼه د ۱۴۰3 هـ ش کال د احصایي ترتیبول او د نشراتو ریاست ته استول( نشراتو ریاست ته د استول شویو پروفایلونو شمیر ۱)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې  د ټولو نهادونو د ۱۴۰۳ کال احصایوي معلوماتو فروپایل ترتیب او د نشراتو ریاست سره شریک شوی دی.

**۳,۵ فعالیت: د نویو تاسیس شویو او د تېرو کلونو د پاتې ښوونځیو د مختصاتو راټولول( ۳۹۰)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې  دهمکارو موسسو دنه همکاری او دبودیجې نشتون ، له امله نوموړی فعالیت نه دی تر سره شوی.

**۳,٦ فعالیت: د بري لیکونو/شهادتنامو ترتیب، تدقیق، طی مراحل او وېشل(۱۲۹۹)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې  د پکتیا ولایت پوهنې ریاست له لورې۴۹۹۳ شهادتنامې چاپ او په گروپی بڼه ویشل شوي دي.

**۳,۷ فعالیت: د پکتیا ولایت پوهنې ریاست ته د ۲۵۰۰ سپینو بري لیکونو/شهادتنامو وېشل**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې  د پوهنې وزارت څخه سپنې شهادتنامې نده رسیدلې ۴۰۵٦ تنه پیسي بانک ته تحویل شوي.

**۳,۸ فعالیت: د دولسم او څوارلسم ټولگیو د فارغانو د نتایجو جدولونو تدقیق، تطبق او تاییدول(۱۳۳)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې  د دولتي ښوونځیود فارغانو د پایلو ۳۹۰ جدولونه او د خصوصي ښوونځیو د فارغانو دپایلو ۳۰ دسامع ۵ جدولونه تایید شوي دي.

**۳,۹ فعالیت: د څارنې، ارزونې او راپور ورکولو په برخه کې فردي او نهادي ظرفیت لوړونه(۱۴)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې  د څارنې او ارزونې ریاست څخه پکتیا ولایت  ته د راغلي ټیم له لورې د مرکزې هستې۳۵ تنه کارمندانو ته د راپور لیکلو او د  راپور ورکولو آنلاین سیستم په برخه کې یو ۴ ورځنی روزنیز ورکشاپ په لاره اچول شوی دی.

**۳,۱۰ فعالیت: د ولایتونو پوهنې ریاستونو د فعالیتونو او پلانونو له تطبیق څخه ربعواره څارنه (۱)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې د څارنې او ارزونې ریاست له لوري یو ټیم راغلی و ترڅو د پلانونو او فعالیتونو له تطبیق څخه څارنه ترسره کړي.

**۳,۱۱ فعالیت: د ولایتونو د پوهنې ریاستونو او کابل ښار پوهنې ریاست اړوند د پوهنې وزارت د همکارو مؤسسو له پروژو څخه څارنه(۱)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې د څارنې او ارزونې ریاست له لوري یو ټیم د یاد فعالیت د تر سره کولو په موخه پکتیا ولایت ته سفر تر سره کړی دی.

**۳,۱۲ فعالیت: د عملیاتي پلان له تطبیق څخه د څارنې او ارزونې په موخه د راپور ورکولو سیستم استفاده کول(۱)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې د پکتیا ولایت په کچه د څارنې او ارزونې په موخه د راپور ورکولو سیستم څخه استفاده شوې ده.

**۳,۱۳ فعالیت: د عملیاتي پلان د راپور ورکولو آنلاین سیستم پراختیا او تطبیق(۱)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې په پکتیا ولایت کې دراپور ورکولو آنلاین سیستم تطبیق او نصب شوی دی.

**۳,۱۴ فعالیت: د چمتو شوي فارمټ سره سم، د ولایتونو په کچه د پلانونو د پرمختګ او لاسته راوړنو ربعوار راپورونو راټولول(۴)**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه د کیفیت تضمین آمریت د راپورونو د توحید او تحلیل غړو له لوري 4 ربعوار راپورونه د ترتیب او توحید وروسته اړونده مراجعو ته استول شوي دي.

**۳,۱۵ فعالیت: د مرکز او ولایتونو په کچه د تقنیني اسنادو او پالیسیو د تطبیق د وړتیا ارزونه او تجربوي تطبیق(۱۰۰٪)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې د تقنیني اسنادو او پالیسیو د تطبیق د وړتیا ارزونه او تجربوي تطبیق ندی ترسره شو ی.

**۳,۱۶ فعالیت: د مرکز او ولایتونو په کچه د تقنیني سندونو او پالیسیو په برخو کې د کارکوونکو روزل او ظرفیت لوړونه(۱۰۰٪)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې د تقنین او پالیسی ریاست له لوري د ظرفیت لوړولو په برخه کې کوم ورکشاپ په لاره نه دی اچول شوی.

## ۴. سرچینې او اداره

**۴,۱ فعالیت: د پکتیا ولایت په کچه د مالي چارو په برخه کې د ۵ تنه کارکوونکو د ظرفیت لوړول**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې د مرکزي ټیم له لوري مالي چارو په برخه کې کارکوونکو ته د ظرفیت لوړولو سیمنار ندی برابر شوی.

**۴,۲ فعالیت: د پوهنې وزارت د اداري کارکوونکو له پاره د ظرفیت لوړولو د استراتیژۍ طرحې جوړول(۱۰۰٪)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې د مرکز څخه د ظرفیت لوړولو د استراتیژۍ کومه طرحه پکتیا ولایت ته نه ده راستول شوې.

**۴,۳ فعالیت: د مرکز او ولایتونو په کچه د کارکوونکو د سوانحو دفترونو تدقیق، تصحیح، تطبیق او بریښنایي کول(۱۰۰٪)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې په پکتیا ولایت کې د سوانحو دفترونو د تدقیق کولو او بریښنایي کولو سیستم نه دی فعال شوی.

**۴,۴ فعالیت: د مرکز او ولایتونو په کچه د مدرسو او ښوونځیو د جایدادونو له پاره د ملکیت سندونو جوړول(۵)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې د پکتیا ولایت په مرکز او ۱۴ ولسوالیو کې د ۴۵ بابه ښوونځیو د جایدادونو لپاره د ملکیت سندونه جوړ شوي دي.

**۴,۵ فعالیت: د مرکز او ولایتونو په کچه د اداري ځایونو او روزنیزو مرکزونو د ودانیو، ترمیمولو او احاطو سجل کول( ۲۰)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې د ۴۵ ترتیب شویو اسنادو او د ۱۱ بابه روزنیزو مرکزونو احاطوي دیوالونو ثبت او سجل تر سره شوی دی.

**۴,٦ فعالیت: د املاکو په دفترونو او معلوماتي سیسټم کې د ملکیتونو د سندونو او سجلو ثبتول او د هغو فایلبندي( ۲۴)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې د ملکیتونو د سندونو۴۵ ثبت شویو سجلونواو فایل بندي ترسره شوي دي.

**۴,۷ فعالیت: د هغو سپینو او امارتي ځمکو تثبیتول چې په هغو باندې پخوا د ښوونځیو او مدرسو ودانۍ جوړې شوي او تر اوسه پورې دې وزارت ته دي انتقال شوي(۳۵)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې په پکتیا ولایت کې داسې ځمکه نه ده تثبیت شوې.

## ۵. د پوهنې ریاست اړوند فعالیتونه (نشرات، تفتیش، مخابره، پلان او نور)

**۵,۱ فعالیت: د امیرالمؤمنین د فرمانونو او د ریاست الوزرا ، وزیرانو شورا او پوهنې وزارت مشرتابه له حکمونو او لارښوونو څخه د ډاډ تر لاسه کولو په موخه سفر تر سره کول(۱)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې د امیرالمؤمنین د فرمانونو او د ریاست الوزرا ، وزیرانو شورا او پوهنې وزارت مشرتابه له حکمونو او لارښوونو څخه د ډاډ تر لاسه کولو په موخه د پوهنې وزارت څخه کوم پلاوي پکتیا ولایت ته تشریف نه دی راوړی. خو د پکتیا ولایت پوهنې رئیس، تدریسي مرستیال، دتضمین کیفیت آمر سره دنتایجو او شهادتنامو مسلکی ټیم اوهمدارنګه دځارنې او ارزونې عمومی مدیر او مسلکي غړیو ټولو ولسوالیوته دمختلفو موضوعاتو په موخه سفرونه کړي دي.

**۵,۲ فعالیت: د عامه پوهاوي او چاپي خپرونو چاپ او ویش( ۳۷۰۵)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې پکتیا ولایت پوهنې ریاست ته د مرکز له لورې ۸۰ د عرفان مجلې، ۴۰ د بخوان او بیندیش مجلې، ۸۰ دپوهنې اونیزې رالیږل شوې چې اړونده برخو ته ویشل شوي دي.

**۵,۳ فعالیت: د پوهنې د یوکلنې کړنې په هکله د کتابونو چاپ(۴۵)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې مرکز څخه د پوهنې د یو کلنې کړنې په هکله کتابونه د پکتیا پوهنې ریاست ته نه دي راستول شوي.

**۵,۴ فعالیت: د ولایتونو، ولسوالیو او ښوونځیو په کچه د درسي کتابونو د ویشلو له پروسې څخه تخنیکي کتنه(۷)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې پکتیا ولایت د ۱۴ ولسوالیو د ۳۷۰ بابه ښوونځیو د درسي کتابونو د ویشلو له پروسې څخه تخنیکي کتنه تر سره شوې ده.

**۵,۵ فعالیت: د پکتیا ولایت د اسلامي زده کړو مرکزونو ته( دارالعلومونو او دارالحفاظونو) د ۲٦۲۵۴ ټوکه درسي کتابونو چاپ او ویش**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې پکتیا ولایت پوهنې ریاست ته د اسلامي زده کړو( دارالعلومونو او دارالحفاظونو) ۲۴۰۹۷ ټوکه درسي کتابونه رارسیدلي چې توزیع او انتقال یې جریان لري.

**۵,٦ فعالیت: د پکتیاولایت په کچه په پښتو او دري ژبه د سواد زده کړې د ۳٦۰۰ ټوکه درسي کتابونو چاپ او ویش**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې د مرکز څخه د پکتیا ولایت پوهنې ریاست ته د سواد زده کړې ۲۰۰۰ ټوکه کتابونه رارسیدلي دي چې د پکتیا ولایت اړوند د سواد زده کړو کورسونو ته ویشل شوي دي.

**۵,۷ فعالیت: د بدني روزنې د ښوونکو د لارښود د ۱۴۹۸ ټوکه درسي کتابونو ویش**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې د مرکز څخه یاد ولایت ته د بدني روزنې د ښوونکو د لارښود کتابونه نه دي راستول شوي.

**۵,۸ فعالیت: په مرکز کې د استهلاک شویو کتابونو د لیلام چارو تعقیبول او د ولایتونو د نشراتو مدیرانو له لورې د کارونو د پړاوونو بشپړول(۱)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې  کتابونه لیلام ته نه دي سپارل شوي دوزارت هدایت ته منتظریو.

**۵٫۹ فعالیت: د پلټنې په برخه کې د ولایتي او مرکزي کارکوونکو لپاره د روزنیزو پروګرامونو په لاره اچول(۴)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې  د داخلی پلټنې ریاست کارمندانو له لورې د پلټنې په برخه کې کو م روزنیز پرګرام په لاره نه دی اچول شوی.

**۵٫۱۰ فعالیت: د اړونده پروګرامونو د رسولو په موخه ولایتونو ته د دعوت او ارشاد ریاست د کارکوونکو سفر کول(۲)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې  د دعوت ارشاد ریاست څخه ۱ تن کارکوونکي پکتیا ولایت ته سفر تر سره کړی دی. چې د نظام د پیاوړتیا او د پوهنې ریاست مامورینوته یې د ښه حکومت والۍ او تقوا په هکله لازمي سپارښتنې تر سره کړي دي.

## دویمه برخه: انډولیز لاسرسی

**تـــولیزه موخـــه:** پـــه هېـــواد کـــې د ماشـــومانو، ځوانـــانو او لویـــانو، نجونـــو او ښـــځو لپـــاره کیفیـــت لرونکـــي او خونـــدي زده کړو فرصتونو ته د انډولیز او ټول ګډونه لاس رسي زیاتوالی.

### ۱. ښوونه او روزنه

**۱٫۱ فعالیت: د ترسره شوِي تحقیق سره سم په ښوونځیو کې د ښوونکو د غیرحاضری د کمولو په موخه د پالیسۍ ازمایښتي تطبیق(۱۰۰٪)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې  په ښوونځیو کې د ښوونکو د غیر حاضرۍ د کمولو په موخه د پالیسی ازمایښتي تطبیق ۱۰۰ سلنه تر سره شوی دی.

**۱٫۲ فعالیت: د هېواد په کچه د ښوونکو د مسلکي پراختیا په موخه د اړونده پروګرامونو د تطبیق له څرنګوالي څخه څارنه(۱)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې  د مرکز څخه پلاوی د ښوونکو د مسلکي پراختیا د اړونده پروګرامونو د تطبیق له څرنګوالي څخه د څارنې په موخه نه دی راغلی. خو د ولایتي کار مندانو له لورې د ۵ پروګرامونو د تطبیق له څرنکوالي څخه څارنه تر سره شوې ده.

**۱٫۳ فعالیت: د ولایتونو په کچه د تړل شویو ښوونځیو د بیا پرانستلو او برخلیک ټاکلو په اړه لازم اقدامات(۳۰)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې  تړل شویو ښوونځیو د بیا پرانستلو په موخه مکتوبونه مربوطه ولسوالیو ته لیږل شوي او د اړونده شوراګانو سره غونډې دایرې شوي دي. او اساسي علت یې د وړ زده کوونکو نشتون او دمعیارونو نه پوره کول دي.

**۱٫۴ فعالیت: په دوه کلن پروګرام کې د ښوونکو روزنه(۵۵۵)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې د ښوونکو روزنې برنامې د ختمیدو له امله د ښوونکو د روزنې په دوه کلن پروګرام کې ښوونکي نه دي شامل شوي.

**۱٫۵ فعالیت: د نتایجو او شهادتنامو ریاست سره د شریکولو په موخه د فارغنود شهرت او نتایجو جدولونو کتنه، تایید او سپارل(۳۳)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې ۳۶۷ د فارغانو د شهرت او پایلو جدولونه د تدقیق او تایید څخه وروسته د نتایجو او شهادتنامو ریاست سره شریک شوي دي.

**۱٫۶ فعالیت: د فزیک، کیمیا، بیولوژي، ریاضي او محیطي ساینس په برخو کې د شته کمپیوټر لبو او لابراتوارونو تجهیزول او رامنځته کول( ۷)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې په یاد ولایت کې شته کمپیوټر لبونه او لابراتوارونه د بودیجې د کمښت له امله په اړینو وسایلو نه دي تجهیز شوي.

**۱,۷ فعالیت: په دولتي ښوونځیو کې د پکتیا ولایت په کچه د ۲۰۵۴۲ جدیدالشمول زده کوونکو جذبول**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې  د پکتیا ولایت د عمومي زده کړو په ښوونځیو کې ۱۰۷۹۸ تنه نارینه او ۴۳۲۰ تنه ښځینه زده کوونکي نوي شامل شوي دي. چې په دې جذب سره د دولتي ښوونځیو زده کوونکو عمومي شمیر ۲۱۸۲۷۳ تنو ته چې ۵۸۲۷۰ تنه یې ښځینه دي رسیږي.







**۱,۸ فعالیت: د پکتیا ولایت په کچه د ۳ بابه نویو ښوونځیو تأسیس**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې  کوم دولتي ښوونځی د خلکو د نه غوښتنې له امله نه دی تاسیس شوی.

**۱,۹ فعالیت: په کابل ښار او ولایتونو کې د اړوندو ادارو سره د پخوانۍ همغږۍ پر بنسټ د منځنۍ دورې ښوونځیو د لومړنیو ښوونځو لیسې ښوونځیو ته د منځنیو ښوونځیو لوړول(۸)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې  د پکتیا ولایت پوهنې ریاست مربوط د ګرده څیرې ولسوالی پوهنې آمریت اړوند د توري خیل منځنې ښوونځي لیسې ته اوپه زرمت ولسوالی کې ۱ باب  لومړني ښوونځي  د دولت خان په نوم  منځنې ښوونځي  ته ارتقا کړې ده.

**۱,۱۰ فعالیت: جلا کول، د نوم بدلول، ادغام، د جنسیت بدلون، د اقلیم بدلون او په مرکز او ولایتونو کې له یوه ځای څخه بل ځای ته د ښووونځیو انتقال(۷)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې د ضرورت نه پیښدو له امله د دولتي او خصوصي ښوونځیو د نوم بدلول، ادغام، د جنسیت بدلون، د اقلیم بدلون او انتقال نه دی تر سره شوی.

**۱,۱۱ فعالیت: د مرکزي او ولایتي ریاستونو او اړوندو ادارو سره د ښوونځیو جوړولو د پروژو (د احاطې دیوال، احاطې او د پاکو اوبو ځاه ګانو) په برخو کې همغږي(۲)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې  د یونسیف موسسې سره د ۵ پروژو چې ۳ په زرمت ولسوالی او ۲ په څمکنیو ولسوالیو کې دي همغږي تر سره شوې ده.

**۱,۱۲ فعالیت: له بهر څخه راستانه شویو او مجاهدینو د اړتیاوو او غوښتنو سره سم د ټولګیو تثبیتول(۳۵۰)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې  د ۲۴۲ تنو پکتیا ولایت له بهر څخه راستانه شویو او ۱۳۶۱ تنه مجاهدینو د ټولګیو تثبیت تر سره شوی دی. چې د ټولګیو له تثبیت وروسته اړونده ښوونځیو ته معرفي شوي دي.

**۱,۱۳ فعالیت: د مرستندویه موسسو په همکارۍ د هیواد په ټولو ولایتونو کې د سیمه ایيزو او چټکو زده کړو ټولګیو جوړول(۹۸)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې  د پکتیا ولایت په مرکز او ۱۴ ولسوالیو کې ۱۰۵ بابه د چټکو زده کړو ټولګي او ۳۳۷ بابه د سیمه ایزو زده کړو ټولګي ایجاد شوي دي.چې ددې ټولګیو په ایجاد سره د یادو سیمو اوسیدونکو ته د زده کړو په برخه کې اسانتیا رامنځ ته شوې ده.

**۱,۱۴ فعالیت: د څارندوي ټیمونو، ترافیک او اور وژنې ټیمونو رامنځته کول او فعالول(۴)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې د پکتیا ولایت په مرکز کې ۵ د څارندوی ټیمونه او ۲۰ د ترافیک او اطفایې ټیمونه ایجاد شوي دي.

**۱,۱۵ فعالیت: د سواد د اهمیت په اړه د عامه پوهاوي د لوړولو په موخه د پروګرامونو تنظیمول(۱۲٦)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې د سواد نړیوالې ورځې په مناسبت ۱ محفل دایر شوی دی، همدارنګه د جوماتونو او تکیه خانو له لارې دعامه پوهاوي ۴۰ پروګرامونه تر سره شوي دي.

**۱,۱٦ فعالیت: راستنیدونکو او داخلي بې ځایه شویو لپاره چې د زده کړې څخه بې برخې پاتي د سواد زده کړو د زمینې برابرول(۱۵۰)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې د دې امله چې راستنیدونکو ته کوم مشخص ځای نده ټاکل شوي چې دوامداره استوګنې وکړي د سواد زده کړې زمینه نه ده برابره شوې. او نه چا مراجعه کړی ده.

**۱,۱۷ فعالیت: د سواد زده کړې په کورسونو کې د نالوستو کسانو جذبول(۲۷۵۰)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې د پکتیا ولایت په مرکز او ۱۴ ولسوالیو کې ۵۸۲۴ تنه د سواد زده کړو په کورسونو کې نوي جذب شوي دي.

**۱,۱۸ فعالیت: د ملا امامانو او کوچیانو د پروګرام له لارې د سواد زده کړې په کورسونو کې د نالوستو کسانو جذبول(۷۰۰)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې د ملاامانو او کوچیانو د سواد زده کړو کورسونو په برخه کې تشکیل نده ورکړل شوی او قرارداد هم نه دی شوی.

**۱,۱۹ فعالیت: د پکتیا ولایت په کچه د سواد زده کړې کورسونو رامنځته کول(۱۴۴)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې د پکتیا ولایت په مرکز او ۱۴ ولسوالیو کې ۱۱۲ بابه د سواد زده کړو کورسونه جوړ شوي دي.چې ددې کورسونو په تاسیس سره په یادو سیمو کې د سواد کچه لوړه شوې ده.

**۱,۲۰ فعالیت: دخصوصي ښوونیزو موسسو اوکورسونو ملاتړ او اعتبار ورکول(۳۰)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې یو باب ښوونځی دشاه ابوالحسن خرقاني په نوم تاسیس شوی دخصوصي ښوونځیو جوازونه ندي تمدید شوي ځکه چې وخت یې پاتي وه. خو د ۷ بابه خصوصي کورسونو نو تاسیس او ۳ بابه خصوصي کورسونو دجواز تمدید تر سره شوی دی . ۱ باب خصوصي منځنی ښوونځی دافغان سید جماالدین سجاه په نوم لېسې ته لوړشوی دی.

**۱,۲۱ فعالیت: د خصوصي ښوونځیو زده کوونکو دري کلنو نمرو ته اعتبار ورکول ترڅو په بهر کې خپلو زده کړو ته دوام ورکړي(۲)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې دخصوصي ښوونځیو د ۴۱۸ تنه زده کوونکو نمرې تدقیق شوې.

**۱,۲۲ فعالیت: په خصوصي ښوونځیو او کورسونو کې د هغو زده کونکو لپاره چې د مالي اړخه کمزوي وي د زده کړو د زمینې برابرول(۲)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې ۱۵ تنه هغه زده کوونکي چې د مالي اړخه کمزوري دي خصوصي ښوونځیو ته او۲۵ تنه کورسونو ته معرفي شوي دي.

## ۲. اسلامي زده کړې

**۲,۱ فعالیت: د اسلامي زده کړو د رسمي بنسټونو تاسیس، د نوم او بڼې بدلون، ارتقاء، تمدید او د بسټونو وېش(۴۰۱)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې د پکتیا ولایت په مرکز او ۱۴ ولسوالیو کې د اسلامي زده کړو ۸۰۰ رسمي بنسټونه تاسیس شوي دي.

**۲,۲ فعالیت: د اسلامي زده کړو له تاسیس، د نوم بدلون، ارتقاء، تمدید او د خصوصي مرکزونو د جواز د بنې د بدلون څخه کتنه او کنټرول(۵۰)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې د پکتیا ولایت د مرکز او ۱۴ ولسوالیو د خصوصي زده کړو ۵۰ بابه مرکزونو څخه څارنه او کنترول تر سره شوی دی.

**۲,۳ فعالیت: د ۴۲۰ حافظانو او علماء کرامو د سویې تثبیت**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې ۴۰۰ تنه علما د تثبیت وروسته دولسم ټولګي ته او ۵۵ تنه علما د سویې له تثبیت وروسته څوارلسم ټولګي ته معرفي شوي دي. همدارنګه د ۵۰۰ تنه حافظانو د سویې تثبیت تر سره شوی دی.

**۲,۴ فعالیت: د پکتیا ولایت د مدرسینو د ظرفیت لوړولو په موخه د ورکشاپونو دایرول (۱۰۰)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې د مرکز څخه کوم پلاوی د پکتیا ولایت د مدرسینو د ظرفیت لوړولو په موخه نه دی راغلی.

**۲,۵ فعالیت: د میتودیکي اړتیاؤ د معلومولو په موخه د اسلامي زده کړو په بنسټونو کې د مدرسینو او استادانو ارزونه(۱۰۰)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې د دې لپاره چې تراوسه زمینه نده برابرشوې د میتودیکي اړتیاؤ د معلومولو په موخه د اسلامي زده کړو په بنسټونو کې د مدرسینو او استادانو ارزونه نه ده تر سره شوې.

**۲,٦ فعالیت: د دارالعلومونو د اداري او تدریسي لوازمو د اړتیاوو بشپړول او تجهیزول(۱)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې د پکتیا ولایت اړوند دارالعلومونه د بودیجې د کمښت له امله په اداري او تدریسي لوازمو نه دي تجهیز شوي.

**۲,۷ فعالیت: د طالب العلمانو لپاره د لیلیې رامنځته کول(۴۹)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې د پکتیا ولایت په مرکز ګردیز کې نوې لیلیه رامنځ ته شوې ده چې د یادې لیلیې څخه ۷۵ تنه طالب العلمان برخمن شوي دي.

**۲,۸ فعالیت: په دارالعلومونو کې د اختصاصي ازموینې له لارې د عالي دورې په ۱۳ او ۱۴ ټولګیو او د دارالعلوم په لومړنی دورې کې د جدیدالشمولانو او جذب(۴۰۰)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې ۵۰ تنه طالب العلمان د اختصاصي ازموینې له لارې دیارلسم او څوارلسم ټولګیو کې او ۵۸۵ تنه د دارالعلوم په لومړنی دورې کې جذب شوي دي.

**۲,۹ فعالیت: د ۲۳۰ مدرسو او د نویو دارالحفاظونو جوړول**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې د پکتیا ولایت په مرکز او ۱۴ ولسوالیو کې۱۸٦ بابه د نارینه و نوې مدرسې، ۵۱ بابه د نارینه و نوي دارالحفاظونه او ۸ بابه د ښځینه و دارالحفاظونه ایجاد شوي دي. چې د دې مرکزونو په ایجاد سره په یادو سیمو کې دیني زده کړو ته لاسرسی ډیر شوی دی.

**۲,۱۰ فعالیت: د هیواد په مرکز او ولایتونو کې د ۲۰ بابه کلیوالي مدرسو او دارالحفاظونو جوړول**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې په پکتیا ولایت کې ۲۰ بابه کلیوالي مدرسې جوړې شوي دي. اما د وزارت مقام څخه کلیوالي دارالحفاظونو ته منظوري نه ده ورکول شوې.

**۲,۱۱ فعالیت: د هیواد په مرکز او ولایتونو کې د ۴۵۷ بابه عمومي او کلیوالي مدرسو سمبالول/تجهیزول**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې د یاد ولایت په مرکز او ۱۴ ولسوالیو کې ۹۸٦ بابه مدرسې په اړینو وسایلو تجهیز او سمبال شوي دي.

**3 سرچینې او اداره**

**۴,۱ فعالیت: ښوونیزو او اداري مرکزونو او نویو تاسیس شویو ښوونځیو ته د تشکیل او کوډونو لیږدول(۱۰۰٪)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې  نویوتاسیس شویو۷۵ ښوونځیو ته کوډونه لیږدول شوي وي.

**۴,۲ فعالیت: د ښوونځیو د تشکیل لوړول له لومړني ښوونځي څخه منځني او لیسې ته او نورو ښوونیزو اداري مرکزونو ته لوړول(۱۰۰٪)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې د پکتیا ولایت په ګرده څیرې ولسوالۍ کې د توریخیل په نوم ۱ باب منځنی ښوونځی لېسې ته اوپه زرمت ولسوالی کې ۱ باب  لومړنی ښوونځی  د دولت خان په نوم  منځني ښوونځي  ته لوړ شوی دی.

**۴,۳ فعالیت: د طرحو، ساختارونو او تشکیلاتي احصایو نهایي کول او د منظورۍ او تطبیق په خاطر یې د ریاست الوزرا لوړ مقام ته لیږل(۱۰۰٪)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې  پکتیا ولایت ته د مرکز څخه کومه طرحه او یا ساختار نه دی رالیږل شوی.

**۴,۴ فعالیت: د بشري سرچینو د پروسو ساده کول او سمون او د مرکزي او ولایتي ادارو د دندو د لایحو بیا کتنه او معیاري کول(۱۰۰٪)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې  د مرکز څخه کوم پلاوی د بشري سرچینو د ساده کولو او سمون په موخه نه دی راغلی.

**۴,۵ فعالیت: په پکتیا ولایت کې د تشکیلاتو د کړنلارې سره سم د تشکیلاتو تطبیقول(۱)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې  د پکتیا ولایت کې د تشکیلاتو د کړنلارې سره سم د تشکیلاتو تطبیقول تر سره شوي دي.

**۴,٦ فعالیت: د برېښنایي سیستم د تطبیق، د جنسونو د محاسبې او عامه جایدادونو (جنسونو، سامانونو، وسایطو اونورو ... ) د ثبت او د څارنې د څرنګوالي په موخه د یو تخنیکي تیم ټاکل او لیږل(۱)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې  د مرکز څخه یاد تیم پکتیا ولایت ته نه دی راغلی.

**۴,۷ فعالیت: په ولایتونو کې د دخیلو ادارو لخوا د ماینونو او چاودیدونکو موادو د خطرونو په اساس مسؤلینو، ښوونکو او زده کوونکو ته د زده کړې زمینه برابرول، لارښوود چمتو کول او پوسترونه ویشل(۹۱٦٦)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې د بودجې د نشتون له امله د ماینونو او چاودیدونکو موادو د خطرونو په هکله مسؤلینو، ښوونکو او زده کوونکو ته د زده کړې زمینه نه ده برابره شوې.

**۴,۸ فعالیت: په ولایتونو کې د اسلامي امارت د ۱۴۰۲ کال بودیجې څخه د بنسټیزو نیمه کاره پروژو (ښوونځیو، مدرسو او دارالحفاظونو) بشپړول(۵)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې  د بودجې د نه شتون له امله د ۱۴۰۲ کال نیمه کاره پروژې نه دي بشپړې شوي.

**۴,۹ فعالیت: د دولت او همکارو موسسو له بودیجې څخه د ساختماني پروژو جوړول(۱۰)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې د پکتیا ولایت په مرکز او ولسوالیو کې د همکارو مؤسسو له بودیجې څخه 18 ساختماني پروژې ترسره شوي دي. چې په میرزکه، لجه منګل، ډنډ پټان، وزی ځدران ، ګرده څیرې، جاجی آریوب، څمکني، ښواک،روحانی بابا، زرمت، آحمدآبا، سیدکرم اوپه مرکزکې دشاه بي بي اوابراهیم خیل ښوونځیوکې فعالیت لري.

**۴,۱۰ فعالیت: د ښوونځیو د ساتنې او پاملرنې او املاکو ریاست په همغږۍ سره د ولایتونو ټیمونو له لارې د عادي او موسسو له بودیجې څخه ترمیماتي پروژو تطبیقول(۲۵)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې  ۱۵ پروژې د اسلامی امارت دبودیجې او ٦ پروژې د همکاروموسسو له خوا تطبیق شوي دي.

**۴,۱۱ فعالیت: د مرکز او ولایتونو څخه د بنسټیزو او ترمیماتي پروژو د قیمت ورکولو په موخه په ربعوار ډول د ساختماني موادو د نرخونو راټولول(۱۰۰٪)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې  د بنسټیزو او ترمیماتي پروژو د قیمت ورکولو په موخه د ساختماني موادو نرخونه راټول شوي دي.

**۴,۱۲ فعالیت: د ښوونځیو او مدرسو د جوړولو په موخه د معارف پاله خلکو له لارې د شخصي ځمکو برابرول(۵ جریبه)**
د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې د ښوونځیو او مدرسو د جوړولو په موخه شخصي ځمکه نه ده برابره شوې.

**۴,۱۳ فعالیت: د مرکز او ولایتونو په کچه د پوهنې اړوند تر دعوې او شخړې لاندې غصب شویو جایدادونو د دوسیو تعقیبول او د پوهنې د غصب شویو، نیول شویو او تر دعوې لاندې جایدادونو خلاصول؛(۴)**
د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې د پوهنې اړوند غصب شویو جایدونو۸ دوسیې تعقیب شوي دي. چې له جملې یې ٦ غصبي او۲ یې دعوایي دوسیې دي.

### ۵. د پوهنې ریاست اړوند فعالیتونه (نشرات، تفتیش، مخابره، پلان او نور)

**۵,۱ فعالیت: د مرکز، ولایتونو او پوهنې ریاستونو استازو ته د ولایت له پوهنې څخه د ترلاسه شویو مکتوبونو د ترلاسه کېدو او بنه اجراآتو په اړه معلومات ورکول (۱۰۰٪)**
د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې د ټکنالوژۍ مدیریت له لورې مراجعینو ته معلومات ورکول شوي او د مرکز څخه راغلي مکتوبونه په خپل وخت اړونده کسانو ته ورکول شوي او همدارنګه د مراجعینو اسناد مرکز ته لیږل شوي دي.

## 3 برخه: آغېزمن، روڼ او ځواب ویونکی مدیریت

**تولیزه موخه:** د مرکز او ولایتونو په کچه کیفیت لرونکي، انډولیز او رڼو، ارزانه او آغېزمنو ښوونیزو چوپړتیاو د وړاندې کولو او برابرولو لپاره د آغېزمن، روڼ او ځواب ویونکي مدیریت پراختیا او غښتلتیا.

### ۱. ښوونه او روزنه

**۱,۱ فعالیت: د هېواد د ولایتونو په لرې پرتو او محرومو سیمو کې د ښوونکو د ګمارنې له څرنګوالي څخه څارنه(۱)**
د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې په لرې پرتو او محرومو سیمو کې د ښوونکو د ګمارنې له څرنګوالي څخه څارنه ترسره شوې ده.

**۱,۲ فعالیت: د اساسي او ثانوي زده کړو ریاست سره په همغږۍ په مرکز او ولایتونو کې د څارنې له لارې د ښوونې او روزنې پروګرام اړوند د پوهنې وزارت سره د همکارو مؤسسو د لاسلیک شویو تعاهد/هوکړه لیکونو څخه د ډاډ ترلاسه کول(۱)**
د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې د مرکز څخه کوم ټیم د همکارو مؤسسو د لاسلیک شویو هوکړه لیکونو څخه د ډاډ تر لاسه کولو په موخه نه دی راغلی.

**۱,۳ فعالیت: په مرکز او ولایتونو کې د اړتیاؤ ارزولو او د ستونزو د پیژندلو په موخه د مسلکي پراختیا له مرکزونو او ساینس مرکز څخه څارنه کول(۱)**
د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې د مسلکي پراختیا له مرکزونو او ساینس مرکز څخه څارنه ترسره شوې ده.

**۱,۴ فعالیت: د مقام د وزارت ته د عمومي ریاست او تر چتر لاندې اړوند ریاستونو د کادري غړو د علمي رتبو تصویب او پیشنهادول(۴۰)**
د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې د کادري غړو ۲ علمي رتبې تصویب او پیشنهاد شوي دي.

